د افغـــانستان اســـلامي امـــارت
د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست
د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

۲۸/ ربيع الأول /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۲۱ /ميزان /۱۴۰۲هـ، ش

# د مړي د تعزيت (تسليت) فضيلتونه او د هغې صحيح اسلامي طريقه

الحمد لله الذي حث عباده على الصبر وجعل الصبر مفتاحاً الفرج الحمدلله الذي اعلى درجات الصابرين وأعظم الأجور وبشر عباده الصابرين بصلواة منهم ورحمة ووعدهم بأجرهم دون حساب، ونشهد أن لااله إلا الله وحده لاشريک وأن محمداًعبده ورسوله صلى الله عليه وسلم خير من صبر على البلوى وعلى الاذى وسلم تسليماً كثيرا وعلى آله واصحابه أجمعين إلى يوم الدين أما بعد.

قال الله سبحانه وتعالى: (وَلَنَبْلُوَنَّكم بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الأَمْوَالِ وَالأنفسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِين.الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهم مصِيبَةٌ قَالوا إِنَّا لِلَّـهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعونَ. أولَـئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأولَـئِكَ هم الْمهْتَدونَ).البقرة:(۱۵۵-۱۵۷)

## تعزيت (تسليت) :

دمړی دکورنی خلکو ته د صبر ورکولو، د خواخوږی کلمات ويلو، دهمدردی او غمشريکی اظهارولو، دهغوی غم او فکر غلطولو او دمړي په حق کې دبخښنې دعاء کولو ته تعزيت وائی .

په تعزيت کې د مړي د پاره د الله تعالی څخه د مغفرت غوښتنه ده او څوک چې د الله تعالی څخه غوښتنه کوي لاس پورته کوي او نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپل امت ته د دعاء پر وخت د لاس پورته کول ور ښوولي دي.

امام نووي رح ليکلي دي: تعزيه په صبر سره توصيه کول دي او د هغه څه ذکرکول دي چې د مړي د وارثانو تسلي ورباندې کيږي او دهغوی غم کموي او مصيبت يې اسانوي او دا مستحب عمل دی ، ځکه دا امربالمعروف او نهی عن المنکر دی او دالله تعـالی ددې آيـت مفهوم دی چې فرمـايي:{وَتَعَـاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى} (المـائدة:۲ ) او دا بهترين دليـل دی د تعزيې (تسليت)داستحباب لپاره او په صحيح حديث کې راغي نبي عليه السلام فرمايلي دی:(والله في عون العبد ما كان العبد في عون أخيه).الأذكار للنووي (ص:۱۴۸-۱۴۹)

## د تعزيت (تسليت) فضيلتونه:

کله چې د چا مسلمان ديني ورور مړ شي، نو د هغه خپلوانو ته تعزيت او له هغوی سره غمرازي کول، سنت عمل دی، چې په دې سره الله جل جلاله اجر او ثواب ورکوي، رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې اړه داسې فرمايي: (عن عمرو بن حزم ، عن النبي قال : ما من مؤمن يعزي أخاه بمصيبة ، إلا كساه الله سبحانه من حلل الكرامة يوم القيامة). رواه ابن ماجة بإسناد حسن

ترجمه: رسول الله ﷺ فرمايي څوک چې د مصيبت په وخت کې خپل ورور ته تسلي ورکړي او د هغه تعزيت وکړي نو د قيامت په ورځ به الله تعالی ده ته د بزرگی او کرامت جامه ور واغوندي.

په يو بل حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی :(مَنْ عَزَّى مُصَابًا فَلَه مِثْلُ اَجْرِه).سنن الترمذی

ترجمه: چاچې دکوم مصيبت زده تعزيت وکړ؛ نودده دپاره هم دمصيبت زده په شان اجر دی.
تعزيت او غمرازي د رسول الله صلى الله عليه وسلم فعلي او قولي سنت دي .
په يو حديث شريف کې راځي: (عن أسامة بن زيد رضي الله عنهما، قال: أرسلت إحدى بنات النبي صلى الله عليه وسلم إليه تدعوه، وتُخبِره أن صبيًّا لها أو ابنًا في الموت، فقال للرسول: ارجع إليها، فأخبرها أن لله تعالى ما أخذ، وله ما أعطى، وكل شيء عنده بأجلٍ مُسمًّى، فمُرْها فلتصبِر ولتحتسب...).متفق عليه
ترجمه: د اسامه بن زيد رضی الله عنهما څخه روايت دی هغه وايې : ور وليږه د نبي عليه السلام د لونو څخه يوې لور يو کس نبي عليه السلام پسې او له هغه څخه يې غوښتل چې هلته ورشي او ددې خبرې، خبر يې ورته ورکولو چې د هغې يو ماشوم يا يو ځوی د مرگ په حالت کې دی . نبي عليه السلام هغه شخص ته وويل: ورشه او خبره يې کړه چې بيشکه خاص الله تعالى لره دی هغه څه چې هغه واخيست او خاص الله تعالى لره دی هغه څه چې ورکوي يې او هر شی د هغه سره په نيته مقرره دی. ورته امر وکړه چې صبر وکړي او اجر يې له الله تعالى وغواړي.
په يو بل حديث شريف کې راځي: (عن معاويةَ بنِ قُرَّةَ، عن أبيه، قال: كان نبيُّ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم إذا جلس يجْلِسُ إليه نفَرٌ من أصحابه، وفيهم رجلٌ له ابنٌ صغيرٌ يأتيه مِن خَلْفِ ظهرِه، فيُقْعِدُه بين يديه، فهَلَكَ فامتنَعَ الرَّجُلُ أن يحضُرَ الحلقَةَ لذِكْرِ ابنِه، فحَزِنَ عليه، ففَقَدَه النبيُّ صلَّى الله عليه وسلَّم، فقال: مالي لا أرى فلانًا؟ قالوا: يا رسولَ الله، بُنَيُّه- الذي رأيتَه- هَلَكَ، فلَقِيَه النبيُّ صلَّى الله عليه وسلَّم، فسأله عن بُنَيِّه، فأخبرَه أنَّه هَلَكَ، فعَزَّاه عليه...).سنن النسائي.

ترجمه: د حضرت معاويه بن قُرّة رضي الله عنه د خپل پلار څخه روايت کوي هغه وايې چې کله به نبي عليه السلام په کوم ځای کې کيناست ، يو شمير صحابه كرام به هم ورسره کيناستل، په دوی کې يو صحابي ؤ چې د هغه وړوکی زوی ؤ هغه به خپل پلار ته راتللو د شا له خوا بيا به هغه سړي ، هغه ماشوم خپلې مخې ته کينولو، هغه ماشوم مړ شو، هغه صحابي د نبي عليه السلام مجلس د راتللو څخه بند شو ددې وجی نه چې زوی به ورته ياديدلو هغه وربانديې غمژن ؤ. نبي عليه السلام هغه سړی ولټولو او وه يې فرمايل: زه هغه فلاني سړی ولې نه وينم؟ صحابه وو ورته وويل: دهغه، هغه زوی چې تا ليدلی ؤ هغه مړشوی دی ، نبي عليه السلام دهغه ملاقات وکړ او د هغه د زوی په باره کې يې ورڅخه پوښتنه وکړه ، نو هغه نبي عليه السلام ته وويل چې هغه وفات شوی دی نو نبي عليه السلام هغه ته تعزيه وکړه.
په يو بل حديث شريف کې راځي:(عن أم سلمة رضي الله عنها قالت: دخل رسول الله صلى الله عليه وسلم على أبي سلمة وقد شق بصره فأغمضه، ثم قال إن الروح إذا قبض تبعه البصر، فضج ناسٌ من أهله، فقال لا تدعوا على أنفسكم إلا بخير فإن الملائكة يؤمنون على ما تقولون، ثم قال اللهم اغفر لأبي سلمة وارفع درجته في المهديين، واخلفه في عقبه في الغابرين، واغفر لنا وله يا رب العالمين وافسح له في قبره ونور له فيه). رواه مسلم.

ترجمه: د حضرت ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دی هغه وايي چې نبي عليه السلام ابو سلمه رضي الله عنه ته داخل شو په داسې حال کې چې د هغه سترگې خلاصې پاتې وې نو هغه يې ورلره پټې کړې ، بيا نبي عليه السلام وفرمايل: کله چې روح قبض کړل شي نو سترگې ورپسې گوري، نو آوازونه پورته کړل د هغه د کورنۍ خلکو ، نو نبي عليه السلام وفرمايل: مه غواړئ د خپلو ځانونو لپاره مگر خير، بيشکه ملائکې په هغه څه چې تاسو يې غواړی امين وايې. بيا وفرمايل: ای الله! ته ښښنه وکړئ ابوسلمه ته او لوړه کړې درجه دهغه په هغه چاکې چې په هدايت باندې وي او وگرځوئ د هغه پاتې شوي کسان په پاتې کيدونکو کې او ښښنه وکړئ مونږ ته او هغه ته ای رب العالمينه! او پراخي راولې ورته په قبر کې او روښانه کړئ ورته قبر.

په يو بل حديث شريف کې راځي: (عن بريدة الأسلمي رضي الله عنه قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يتعهد الأنصار، ويعودهم، ويسأل عنهم، فبلغه عن امرأة من الأنصار مات ابنها وليس لها غيره، وأنها جزعت عليه جزعاً شديداً، فأتاها النبي صلى الله عليه وسلم ومعه أصحابه، فلما بلغ باب المرأة، قيل للمرأة: إن نبي الله يريد أن يدخل، يعزيها، فدخل رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: أما إنه بلغني أنك جزعت على ابنك، فأمرها بتقوى الله وبالصبر). رواه الحاكم

ترجمه: د بريده اسلمي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم به د انصارو حالت معلوملولو او دهغوی پوښتنه به يې کوله او د هغوی په اړه به يې د خلکو څخه پوښتنه کوله. هغه ته دانصارود يوې ښځې په اړه دا خبر ورسيده چې د هغې زوی وفات شـوی دی او نور له هغه څخه نور څوک نلري او هغه د هغه په مړينه ډيره سـخته وددرديدله. نبي عليه السـلام د هغه ښځې کورته ورغی په داسې حال کې چې صحابه کرام هم ورسره ؤ. کله چې د هغه ښځې دروازې ته ورسيده، هغه ښځې ته وويل شو چې نبي عليه السلام غواړي چې داخل شي او هغه ښځې ته تعزيه وکړي ، بيا نبي عليه السلام ور داخل شو اوورته يي وفرمايل: بيشکه ماته دا خبره رارسيدلی ده چې ته په خپل زوی باندې زيات فرياد کوی، بيا نبي عليه السلام هغه ښځې ته په تقوا او په صبر کولو امر وکړ.
د پورته ذکر شوو آحاديثو څخه دا ثابته شوه چې نبي عليه السلام مړو کسانو ته دعاء کړی ده او دمړو وارثانو ته يي تعزيه کړی ده او ددې کار لپاره د هغوی کورونو ته هم ورغلی دی.
د تعزيې(تسليت) لپاره کوم ځانگړي او مخصوص الفاظ نشته خو بايد د مړي وارثانو ته هغه الفاظ او جملې وکارول شي چې د هغوی د تسليت په برخه کې گټور تماميږي او دهغوی غم ورباندې سپکيږي؛ لکه: الله تعالی دې تاسو ته صبر درکړئ او ستاسو مړی دې الله تعالی وبښئ. الله تعالی دې ستاسو مړی ستاسو دآخرت ذخيره وگرځوي او ستاسودرجې دې الله لوړې کړي. ټوله دنيا فاني ده او بقاء يواځې الله تعالی لره ده مونږ او تاسو ټول ددې فاني دنيا څخه تلونکي ياستو.
امام شافعي په کتاب الأم کې ليکلي دي چې په تعزيه کې کوم مشخص او محدد څه نه دي راغلي .
قال الإمام الشافعي رحمه الله : ( ليس في التعزية شيء مؤقت). الأم ٣١٧/١
امام ابن قدامه هم دا خبره کړی ده اووايي:( لا نعلم في التعزية شيئاً محدوداً...). المغني ٢١٢/٢
البته په احاديثو کې د تعزيت او غمرازۍ په اړه ځينې دعاگانې راغلي دي چې که چيرې چا ته زده وي او هغه وکاروي دا افضله او بهتره ده لکه:(إِنَّ للهِ مَا أَخَذَ، وَلَهُ مَا أَعْطَى، وَكُلٌّ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى، فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ).متفق عليه
ترجمه: بيشـکه هر څه خاص الله تعالی لره دي چې اخلي يي او هرڅه هغه لره دي چې ورکوي يې او هر څه له هغه سره په ټاکلې نېټه باندې دي، نو ته بايد صبروکړئ او ته بايد د ثواب هيله ولرئ.
همدارنگه دا دعاء هم راغلې ده: (اعظم الله اجركم وغفر لميتكم) الله تعالی دې ستاسې اجر زيات کړي او ستاسې مړي ته دې مغفرت وکړي.
همدا راز (انالله و انا اليه راجعون) خو له ټولو نه مشهوره او غوره دعاء ده.
نبي عليه السلام ، صحابه کرامو او سلف صالحينو په مختلفو حالاتو مختلفې دعاگانې کړي دي.
د قدوري په معتبره شرح الجوهرة النيرة ١١٠/١ کې داسې راځي چې د تعزيې الفاظ:(عَظَّم الله أجرك ، وأحسن عزاءك ، وغفر لميتك ، وألهمك صبراً ، وأجزل لنا ولك بالصبر أجرا.

وأحسن من ذلك : تعزية رسول الله صلى الله عليه وسلم لإحدى بناته كان قد مات لها ولد فقال: (إن لله ما أخذ ، وله ما أعطى ، وكل شيء عنده بأجل مسمى).

همدا شان كه چيرې ددې فرصت وي چې لاندې آيتونه د مړي وارثانو ته ولوستل شي او يا ترجمه شي بهتره ده.

الله تعالی فرمايلي دي:(كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ).العنكبوت:٥٧.

ترجمه: هر نفس د مرگ (مزه) څكونكى دى بيابه خاص مونږ ته راگرځولى شئ.

په يو بل آيت كې فرمايې:(قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ).الجمعة: ٨

ترجمه: ته (دوى) ته ووايه بيشكه هغه مرگ چې تاسو له هغه نه تښتئ پس يقيناً هغه له تاسو سره ملاقات كوونكى دى بيابه تاسو د غيبو او ښكاره وو وعالم ذات ته بوتلى شى نو هغه به تاسو په هغو عملونو خبر كړي چې تاسو به كول.

الله تعالى فرمايلي دي: (وَلَنَبْلُوَنَّكم بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالأنفسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ.الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهم مصِيبَةٌ قَالوا إِنَّا لِلَّـهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعونَ. أولَـئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأولَـئِكَ هم الْمهْتَدونَ). البقرة:(١٥٥-١٥٧)

ترجمه:او خامخا مونږ به تاسو ضرور په يو شى سره له ويرې او له لوږې او دمالونو او ځانونو او ميوو په نقصان(كمي) سره ازمايو او صبر كوونكوته زيرى وركړه هغه كسان چې كله دوى ته څه مصيبت ورسي(نو) وايې يقيناً مونږ د الله يو او بيشكه مونږ خاص هغه ته ورگرځيدونكي يو. دغه خلک پر همدوې باندې د خپل رب له جانبه عنايتونه دي او رحمت دى او همدغه خلک هدايت موندونكي دي.

همدا رنگه الله تعالى فرمايلي دي: (كل نَفْسٍ ذَائِقَة الْمَوْتِ وَإِنمَّا توَفَّوْنَ أجورَكمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَن زحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاة الدنْيَا إِلَّا مَتَاع الْغرورِ).آل عمران: ١٨٥
ترجمه: هر ساه لرونكى د مرگ (مزه) څكونكى دى او يقيناً داخبره ده چې تاسو ته به د قيامت په ورځ ستاسو ثوابونه (پوره) پوره دركړى شي نو څوک چې له اور (جهنم) نه لرى كړى شو او جنت ته داخل كړى شو نو يقيناً هغه كامياب شو او دنيوي ژوند يواځې د غوليدو سامان دى.

## د تعزيت لپاره كيناستل:

د تعزيت طريقه داده چي تر درو ورځو پوري د مړي ورثه اول په خپل كور كې كينې او كه په كور كي ځاى نه وي په مسجد كي هم كولاى شي كيني او پرته له مسجد څخه كولاى شي په كوم بل معين ځاى كې كينې. خلک به راځي د مړي لپاره به د مغفرت او د پاتې كسانو لپاره به د صبر جميل دعا كوي او ځي به.
اوتر دريو ورځو پورې تعزيت وي د دريو ورځو څخه زيات مكروه دى، البته د لرى ځايونو خلكو او غائبو خلكو لپاره ددرى ورځو قيد نشته.

په حديث شريف كې راځي:(عن عائشةَ رَضِيَ الله عنها، قالت: (لَمَّا جاء النبيَّ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم قتَلُ ابنِ حارثةَ، وجعفرٍ، وابنِ رواحةَ؛ جلس يُعرَفُ فيه الحُزنُ).متفق عليه
د حضرت عائشه رضي الله عنها څخه روايت دى، هغه وايې هركله چې راغى نبي عليه السلام ته خبر د شهادت د زيد بن حارثه او جعفر بن ابى طالب او عبدالله بن رواحه كيناست هغه په داسې حال كې چې معلوميده خپگان په هغه كې.
په دې حديث كې دمړي د مصيبت لپاره په كيناستو كې ښكاره دليل دى او امام بخاري ددې حديث لپاره مستقل باب ( باب: من جلس عند المصيبة يعرف فيه الحزن) لږولى دى.

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي:( أنَّها كانت إذا مات المَيِّتُ مِن أَهْلِها، فاجتمَعَ لذلك النِّساءُ ثم تَفَرَّقْنَ إلَّا أهلَها وخاصَّتَها).

كله به چې ددوی له کورنۍ څخه څوک وفات شول او ددې (مصيبت) لپاره ښځې راټولې شوی بيا نورې ښځې لاړې او د کور او خاص (ميلمانه) به پاتې شول.

بله داچې تعزيه سنت ده ددې لپاره په يو معين ځای کې کيناستل ددې سنتو عملي کولو لپاره لارهواروي.

علامه طحطاوي رح ليکي: (لا بأس بالجلوس لها ثلاثة أيام من غير ارتكاب محظور). حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح ص :(۳۳۹) ترجمه: باک نلري دمړي مصيبت لپاره کيناستل تر درې ورځو پورې پرته د کوم محظور عمل دارتکاب څخه.

امام ابن نجيم رح ليکلي دي: قال البقالي: ولا بأس بالجلوس للعزاء ثلاثة أيام في بيت أو مسجد، وقد جلس رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم لما قتل جعفر وزيد بن حارثة، والناس يأتون ويعزونه). البحر الرائق ۲۰۷/۲

ترجمه: امام بقالي رح وايې باک نلري کيناستل د تعزيې لپاره درې ورځې په کورکې او يا په مسجد کې بيشکه نبي عليه السلام تعزيې ته کيناستلی ؤ ، کله چې جعفر بن ابی طالب او زيد بن حارثه رضي الله عنهم په شهادت ورسيدل اوخلک ورته راتلل او تعزيه يې ورته کوله.

د جمهورو فقهاو په اتفاق سره بهترين وخت د تعزيت (تسليت ) لپاره د مړي ددفن څخه وروسته دی؛ ځکه قبل الدفن د مړي ورثه مشغول وي او يا د مړي ورثه وو وروسته له فراق څخه غم زيات وي.(الموسوعة الفقهية)

همدا ارز په کوم کور کې څوک وفات شي سنت طريقه داده چې خپلوان او گاونډيان به د مصيبت زده کورنۍ لپاره ډوډۍ تياروي، ځکه هغوی ته مصيبت رسيدلی وي.

داد د څلورو مذهبونو د پيروانو اتفاقي خبره ده، ځکه چې په همدې طريقه باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم امر کړی دی.

په يو حديث شريف کې راځي: (عن عبدِ اللهِ بنِ جَعفرٍ، قال: لَمَّا جاء نَعْيُ جعفرٍ قال رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم: (اصنعُوا لآلِ جَعفَرٍ طعامًا؛ فقد أتاهم ما يَشْغَلُهم، أو أَمْرٌ يَشْغَلُهم). سنن الترمذی

ترجمه: تيارکړئ د جعفرکورنۍ لپاره طعام، بيشکه هغوی ته راغلی دی هغه څه چې هغوی مشغوله کوي هغوی لره د پخلي نه او يايې داسې وفرمايل: هغوی ته راغلی دی داسې کار چې هغوی يې مشغوله کړي دي.

امام مناوي ددې حديث په شرح کې وايي:(فيندب لجيران الميت وأقاربه الأباعد صـــنع الطعام، ويحلفون عليهم في الأكل). فيض القدير ۶۸۷/۱

ترجمه: پس مستحب ده د مړي گاونډيانو ته او لری خپلوانو ته تيارول د ډوډۍ او دوی ته به د الحاح په توگه د ډوډۍ په خوړلو قسم ورکوي.

## د تعزيت (فاتحه خوانۍ) پروخت د څو دقيقو لپاره د سکوت (چوپ والی) اختيارول:

ځينې خلک او بالخصـــوص په ځينې دولتونو کې عادت دی چې د مړي په خاطر يوه لحظه چوپتيا اختياروي چې ددې ډول عادت څخه علماوو منع کړی ده او دا يې د يهودو او اهل هنودو رسم بللی دی. په فتاوی حقانيه کې همدې ته ورته د يو سوال په جواب کې داسې ليکل شوي دي: اسلام د چا په وفات باندې د مړي د وارثانو په غم کې د شرکت او تعزيت يوه طريقه مسلمانانو ته ښوولې ده او مسلمانان په همدې طريقې باندې د چا په غم کې د شريکيدو او تعزيت اظهار کولی شي په سوال کې د تعزيت د ښکارولو درج شوې طريقه د يهودو او هنودو ده د دې لپاره د مسلمانانو لپاره د دې طريقي اختيارول ناجائز خو پريږده بلکه له يهودو او هنود و سره د مشابهت له وجهې ئې پريښودل واجب دي.

## د فاتحې اړونده ضروري خبرې:

۱: کله چې يو څوک وفات شي د مړي قريبانو ته تعزيت ورکول يعنې د تسليت لپاره ور تلل ثواب لري.

۲: په مسجد کې فاتحه اخستل جایز دي په دې شرط چې دنیوي مجلسونه به نه کوي په مسجد کې او  په مسجد کې فاتحه به د دین برخه نه بولي.
۳: فاتحه باید په درو ورځو کې واخیستل شي تر درو ورځو وروسته فاتحې ته ورتلل د ضرورت پرته شرعا ښه کار نه دی. (هندیه: ۱ / ۱٦۷)
۴: که څه هم د رسول الله صلي الله علیه وسلم په زمانه کې د فاتحې دغه طریقه نه وه کومه چې زموږ او ستاسو په ټولنه کې رواج ده خو علماوو په دې شرط جایز کړې ده چې د ثواب په نیت به د مړي د کورنۍ تعزیت کوي ، اوسنی طریقه به ددین برخه نه بولي.
۵: د مسکین او مسافر پرته نورو خلکو ته د مړي پر کور تر درو ورځو خوراک نه دی جایز.
٦:  د مسجد په دروازه کې چوکۍ ایښودل ، خامخا پخه ډوډۍ راوړل شرعي حکم نه دی او نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې وو؛ البته که یې نور قریبان پخه ډوډۍ ورته راوړي د مړي کورنۍ او مسافرو میلمنو ته یې ورکړي ډېر ښه کار دی ، او که چوکۍ ایښوول د دین په نیت نه کوي او یا هم پاخه خواړه د خیرات په نیت راوړي جایز دي  خو په دې شرط چې د یتیمانو د مال څخه به نه وي پاخه شوي؛ البته ښه خبره داده چې خیرات پټ وکړي ځکه دیوې خوا به د ریا خلاص وي او د بلي خوا به دغه کار رواج نه جوړیږي اوس بدبختي داده چې غریب خلک هم مجبوره دي چې که یې د کور څوک وفات شي ضرور به پاخه خواړه راوړي که یې نه راوړي خلک پیغور ورکوي، ښه داده چې ددغو رواجونو څخه ځان خلاص کړو چې د شتمنو له وجهي ناداره نه ځوریږي.
۷: په ځینو ځایونو کې چې څوک وفات شي د مړي پر کور درې ورځې د کلي د خلکو ډوډۍ لازمه شي، هغه که شتمن وي او که ناداره خامخا به ډوډۍ ورکوي که نه خلک یې بیا بې همته بولي لطفاً دغه خلک خبر کړئ چې دوه ګناوې مو کړي دي:
الف: دغه خوراک نه دی درته روا.
ب: ددې پر ځای چې د مړي د کورنۍ سره غم شریکي وکړۍ ظلم مو وراندي وکړ.
۸: که د مړي په وارثانو کي نابالغه وي د وفات شوي کس له کوره مطلق خوراک نه دی جایز؛ البته که یې هغه قریبان کوي چې په میراث کې ځني جلا وي پروا نه کوي.
۹: د مړي په جنازه کي ګډون د وفات شوي مسلمان ورور حق دی د هغه د توان په اندازه.  مسلمان مکلف دی چې په جنازه کي ګډون وکړي او د تعزیت یا فاتحې لپاره د مړي کورنۍ ته ورتلل ثواب لري خو لازم حق نه دی، بناءً که څوک فاتحې ته را نه شي نو زړه به  ورځخه نه خپه کوي، دا دهغه خپله ګټه ده چې کوي یې یا یې نه کوي.
۱۰: کله چې فاتحه خلاصه شي نو بیا یو څوک راولي چې د مړي د اوسېدو په خونه کې د کمپلو کونجونه راټول کړي، دغه کار شرعي نه بلکي رواج دی.
۱۱: کله چې په کوم کور کي مړی وشي په لومړي اختر به ټول قریبان هغه کورته ورځي، دغه خبره شرعي نه ده بلکي رواج دی.
۱۲ : په مړي پسي هر وخت خیرات کول پکار دي ټاکلي ورځې ورته معلومول لکه اوومه، څلوېښتمه او داسي نور شرعي کار نه دی. (فتاوی فریدیه)
۱۳:د مړي کور ته ځني خوراکي توکي ور وړل یا هم پیسې ورکول، یا پخه ډوډۍ ور وړل یا هم پسه ور وستل ثواب لري، رسول الله صلی الله علیه وسلم  امر کړی دئ چې د مړي د کورنۍ سره مرسته وکړئ البته د رواج په نیت نه بلکي د ثواب په نیت.
۱۴: د مړي هر شی که لږ وي او که ډېر وي که څه هم د اغوستلو کالي او د استعمال شیان وي ټول میراث ګرځي د ټولو وارثینو د موافقې پرته یې نه څوک اخیستلای شي او نه یې خیراتولای شي.